UNITED NATIONS NATIONS UNIES

**د ملګرو ملتونو د عمومی منشی د ویاند وینا د عمومی منشی په استازیتوب د افغانستان د ټول ټاکنو د بهیر په اړه**

د ملګرو ملتونو عمومی منشی د افغانستان د هغو ښځو او نارینه څخه د هغوی د زړورتیا او هوډ لپاره چی د خپل دموکراتیک حق څخه په ګټه په پارلمانی ټول ټاکنو کی برخه واخیستله، ستاینه کوی، دا ټول ټاکنې د افغانستان د اسلامی جمهوری د اساسی قانون پر بنسټ نن تر سره شوي.

د ملګرو ملتونو عمومی منشی یادونه کوی چی دا ټول ټاکنی په داسی حال کی تر سره شوي چی د پام وړ امنیتی ننګوني موجودي دي او د تاوتريخوالي هغه عمل چی د رپوټونو پر اساس تر سره شوي دي غندی، ځانګړی استازی خپل تسلیت د هغه وګړو کورنیو او دوستانو ته وړاندی کوی چی خپل ژوند یی د لاسه ورکړي دي.

هغه د نوماندانو د لوړ شمیر، څه د پاسه ۲۵۰۰ تنه چی په کی شاوخوا ۴۰۰ تنه ښځینه نوماندانې دي او د افغان مدنی ټولنې د ځارنې د ارزښت یادونه په دی بهیر کی وکړه. عمومی منشی د افغانستان د امنیتی ځواکونه د هڅو څخه چی د افغانستان د خلکو خوندی ساتل په دی دموکراتیک بهیر چی د ۵۰۰۰ څخه ډیر د رای اچونې په مرکزونو کی په ټول هیواد کی تر سره کیږي ستاینه کوی.

عمومی منشی د افغانستان د ټول ټاکنو د ادارو، د افغانستان د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون، د ټول ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون، مشري او د هغوی کارکوونکو د هڅو څخه چی تر اوسه تر سره شوي دي، قدردانی کوی. هغه د ټولو اړخونو څخه وغوښتل چی د مناسبو قانونی لارو څخه په ګټه اخیستلو سره خپل شکایتونه درج کړي او د ټول ټاکنو د چارواکو څخه یی وغوښتل چی دا بهیر د قانون سره سم په حوصله او صبر بشپړ کړي.

نیویارک
د سپتمبر ۱۸ نیټه، کال ۲۰۱۰